**بسم الله الرحمن الرحيم**

**د پوښتنې ځواب**

**د اسلامي خاورو د اوسنيو رژيمونو په پوځونو کې ګډون او غړيتوب**

(ژباړه)

**پوښتنه:**

که مو اجازه وي يوه پوښتنه لرم؛ د دغو رژيمونو په پوځونو کې د ګډون او غړيتوب شرعي حکم څه دی؟ ايا يو ځوان ته جايز ده چې د اوسنيو رژيمونو په پوځونو کې کار وکړي او رتبې واخلي؟

**ځواب:**

وعليکم السلام ورحمة الله و برکاته

۱. موږ د ۲۰۱۳م کال د جون په ۸مه د پوليس يا افسر په توګه کار کولو په اړه يو بيان خپور کړی و؛ هلته مو ويلي:

[أبو يعلى په خپل مسند او ابن حبان په خپل صحيح کې روايت کړی؛ الفاظ د أبو يعلى دي: له ابو سعيد او ابو هريره رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

**«لَيَأْتِيَنَّ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ يَكُونُ عَلَيْكُمْ أُمَرَاءُ سُفَهَاءُ يُقَدِّمُونَ شِرَارَ النَّاسِ، وَيَظْهَرُونَ بِخِيَارِهِمْ، وَيُؤَخِّرُونَ الصَّلَاةَ عَنْ مَوَاقِيتِهَا، فَمَنْ أَدْرَكَ ذَلِكَ مِنْكُمْ، فَلَا يَكُونَنَّ عَرِيفاً وَلَا شُرْطِيّاً وَلَا جَابِياً وَلَا خَازِناً».**

**ژباړه:** پر خلکو به داسې زمانه راشي چې احمقان او مستبد حکام به پر تاسې واکمن شي، چې تر ټولو شرير کسان به رامخته کوي، هغوی به د دوی په ټاکنه راڅرګندېږي او لمونځونه له خپل وخت څخه ځنډوي. نو که له تاسو کوم يو په دغه وخت کې و، نو نه دې افسر (د پوليسو مشر) کېږي، نه دې پوليس کېږي، نه دې ماليه راټولونکی او نه هم خزانه‌دار جوړېږي.

په دغه حدیث کې پیغمبر صلی الله علیه وسلم د دغو احمقو حکامو تر حاکمیت لاندې دا څلور کاره په مطلق ډول منعه کړي دي.

خو طبراني په المعجم الصغیر او المعجم الاوسط کې له ابو هریره رضي الله عنه څخه داسې روایت کړی:

**«فَمَنْ أَدْرَكَ مِنْكُمْ ذَلِكَ الزَّمَانَ فَلَا يَكُونَنَّ لَهُمْ جَابِياً، وَلَا عَرِيفاً، وَلَا شُرْطِيّاً»**

**ژباړه:** «که له تاسو کوم یو په دغه زمانه کې و، نو نه دې د هغوی مالیه راټولوونکی کېږي، نه دې افسر او نه دې پولیس.»

نو په دغه دوهم حدیث کې راځي چې: **فَلَا يَكُونَنَّ لَهُمْ** «د دوی لپاره دې نه کېږي»

یعنې دا ممنوعیت مقید شوی، ځکه چې «لام» د اختصاص (ځانګړي کولو) لپاره دی؛ دا په دې معنی ده چې په دویم حدیث کې ممنوعیت د دغو حکامو په کار پورې اړه لري؛ لکه د دوی شخصي ساتونکي، د دوی د ساتنې لپاره ځانګړې امنیتي څانګه، د دوی د پیسو ساتونکي او نورې امنیتي څانګې او ادارې چې د حکامو د ساتنې لپاره ځانګړې وي... دا چې د اصولي قواعدو د صراحت له مخې مطلق پر مقید حمل کېږي، نو په دې توګه دغه ممنوعیت یوازې د پولیسو د هغو ادارو په کار پورې اړه لري چې د حکامو د ساتنې او امنیت برخې ته ځاګړې وي. د پولیسو په نورو ادارو کې کار جواز لري. البته دا جواز پر خلکو د ظلم او له خپلو حقونو څخه د هغوی د محرومولو په معنی نه دی، بلکې په کار کې د حق لپاره د کوښښ په معنی دی.]

په دغه حدیث کې چې د شرطي (پولیس) کلیمه ذکر شوې، د ابن منظور په لسان العرب کې یې په اړه داسې ویل شوي:

«فلاني دغه یا هغه کار ته ځان شرط کړ، یعنې ځان یې ورته څرګند کړ او تیاری یې ورته ونیوه. شُرَط هم له دې څخه اخیستل شوی، ځکه دوی (پولیس) ځان ته داسې علامې غوره کوي چې یو څوک پرې د پولیس په حیث پېژندل کېږي.... او شرطة په واکمنۍ کې ځانګړې نښې او چمتووالي ته ویل کېږي، له دې څخه شرطي (پولیس) سړی دی چې شرطة ته منسوب دی او جمع یې شرط کېږي، دوی ته ځکه شُرَط (پولیس) ویل کېږي چې دوی په لباس او هیئت کې ځانګړې نښې لري چې په هغو سره پېژندل کېږي. ځینې وایي: دوی د لښکر لومړۍ ډله ده چې جګړې ته وردانګي.»

د فیروزآبادي په معجم المحیط کې راغلي:

«شرطة په پېښ سره د شُرَط واحد (مفرد) دی، لکه د صُرَد په څېر او دوی (شُرَط) هغه کتیبه یا ډله ده چې تر نورو لومړی جګړې ته وردانګي او مرګ ته چمتو کېږي، دغه راز دوی هغه ډله ده چې له چارواکو سره مرسته کوي او شُرطي د تُرْکي او جُهَني په څېر دی، دوی ځکه په دغه نوم نومول کېږي چې دوی ځان په ځانګړو نښو سمبال کړي وي چې په هغو سره پېژندل کېږي».

د جواز لرلو یا نه لرلو له نظره، څه چې د پولیس په اړه د پلي کېدو وړ دي، د افسر یا سرتېري لپاره هم دي.

نو په اسلامي خاورو کې په پوځ کې کار جواز لري؛ خو د اسلام له نظره دا کار باید د حکامو د ساتنې په ځانګړې ځواک کې نه وي؛ د هغو لپاره پیسې راټولې نه کړي او نه یې پیسې وساتي. که یو کس په ځانګړي ځواک کې وي چې حکام او د هغه پیسې او شتنمني ساتي، نو دا جواز نه لري. خو که یې په پوځ کې کار له دې اخوا بل څه وي، جواز لري. په دې کې شک نشته چې دا جواز پر خلکو د ظلم او له خپلو حقونو څخه د هغوی د محرومولو په معنی نه دی؛ بلکې په کار کې د حق غوښتلو او د هغو ښه ترسره کولو په معنی دی.

تمه ده چې همدومره به بس وي. الله سبحانه و تعالی تر ټولو زیات علیم او حکیم دی.

**ستاسو ورور**

**عطاء بن خلیل ابو الرشتة**

۱۴۴۵هـ.ق، د شعبان ۱۷مه

۲۰۲۴م، د فبروري ۲۷مه